# بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على خير خلقه محمد
وعلى اله وصحبه أجمعين

# فهرست

د کرنې پوهنځي د رئیس پیغام ............ ۳
د کرنې پوهنځي لنډه پېژندنه ............ ۵
د کرنې پوهنځي ارزښت: ............ ۵
د کرنې پوهنځي د رهبرۍ سلسله: ............ ٦
د کرنې پوهنځي لاسته راوړني: ............ ٦
د کرنې پوهنځي تشکیلاتي چارت ............ ٧
د کرنې پوهنځي د استادانو احصائیه ............ ٨
لرلید (Vision) ............ ٨
ماموریت (Mission) ............ ٨
د کرنې پوهنځي ارزښتونه ............ ٨
د کرنې پوهنځي ستراتیژیکې موخې ............ ٩
د کرنې پوهنځي د استادانو پېژندنه ............ ٩
د کرنې پوهنځي د څانګو پېژندنه ............ ۱۵
۱: هارټیکلچر څانګه: ............ ۱۵
**هارټیکلچر څانګې د ۱۴۰۳ کال د استادانو او محصلانو احصائیه** ............ ۱۵
د څانګې د استادانو احصائیه ............ ۱٦
د هارټیکلچر څانګې کمیټوي جوړښتونه ............ ۱٦
**د هارټیکلچر څانګې تشکیلاتي چارت** ............ ۱٦
**د هارټیکلچر څانګې لیدلوری (Vision)** ............ ۱٧
**د هارټیکلچر څانګې ماموریت (Mission)** ............ ۱٧
**هارټیکلچر څانګې ارزښتونه (Values)** ............ ۱٧
**ستراتېژیکې موخې (Strategic Goals)** ............ ۱٧
۲: حیواني علومو څانګه: ............ ۱۸
د حیواني علومو څانګې تشکیل ............ ۱۸
د حیواني علومو څانګې د استادانو احصائیه ............ ۱۸
د کرنې پوهنځي د علوم حیواني څانګې د محصلینو احصائیه ............ ۱۹
د حیواني علومو څانګې لرلید (Vision) ............ ۱۹
د حیواني علومو څانګې ماموریت (Mission) ............ ۱۹
د حیواني علومو څانګې ارزښتونه ............ ۱۹
د حیواني علومو څانګې ستراتیژیکې موخې ............ ۱۹
د حیواني علومو څانګې کمیټوي جوړښتونه په لاندې ډول دي. ............ ۲۰

د کرنې پوهنځي فارغ التحصیل محصلین: ........ ۲۰
د کرنې پوهنځي کمیټوي جوړښتونه ........ ۲۱
۱: د پوهنځي علمي شورا: ........ ۲۱
۲: د تضمین کیفیت کمیته: ........ ۲۲
۳: د علمي څیړنو یا تحقیق کمیته: ........ ۲۲
۴: د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیته: ........ ۲۲
۵: د نظم دسپلین او شکایاتو کمیته: ........ ۲۳
۶: د کلتوري چارو او نشراتو کمیته: ........ ۲۳
۷: د نصاب کمیته: ........ ۲۳
۸: د ازموینو یا امتحاناتو کمیته: ........ ۲۳
د کرنې پوهنځي څېړنیز وضیعت ........ ۲۵
د کرنې پوهنځي اداري برخه: ........ ۲٦
۱: تدریسي لوی مدیریت: ........ ۲٤
۲: څانګو اجرائیه مدیریت: ........ ۲٤
۳ :لابراتوار مدیریت: ........ ۲٤
۴: د کتابتون مدیریت: ........ ۲٤

# د کرنې پوهنځي د رئیس پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله رب العلمین والصلواة والسلام علي المبعوث رحمة للعلمین سیدنا محمد خاتم الانبیاء والمرسلین صلی الله علیه وسلم وعلی اله وصحبه اجمعین و من تبع هـداه بإحسان الـي یوم الدین، اما بعد:**



څرنگه چې لوړې زده کړې د یو هیواد له مهمو او مبرمو ضرورتونو څخه گڼل کیږي، نو په همدې اساس د هیواد خود کفایي او ځان بساینې ته رسیدل بدون د لوړو زده کړو څخه ناشوني دي. ځوان تحصیل یافته، په مسلکي او تخنیکي پوهه سمبال قشر د یوې متمدنې ټولنې او هیواد د ملاتیر ده، همدا بشري او د پرمختللي علم په زیور سمبال بشري نیرو کولای شي چې د هیواد لویې ستونزې او د پرمختگ په لار کې ولاړ خنډونه په پوره توانایي سره له منځه یوسي. پوهنتونونه د همدې سترو موخو د تحقق په پار یواځیني مرکزونه دي چې لمړیتوب او رسالت یې د لوړو زده کړو وړاندې کول، علمي تحقیقاتو او تالیفاتو تر سره کول دي. پوهنځي او څانگې د پوهنتون په تخصصي برخو کې د زده کړو او خدماتو د وړاندې کولو سرچینې دي، او عمده هدف یې د پوهنتون د ماموریت او لرلید ته کار کول دي. کرنیز سکتور د گران هیواد افغانستان د اقتصاد اساس گڼل کیږي، افغانستان یو کرنیز هیواد ده چې تر ۷۵ سلنه وگړي یې په کرنه او مالداري مشغول دي، د دې لپاره چې کرنه له عنعنوي او دودیز روش څخه عصري یا میکانیزه روش ته بدله شي، له فی واحد ساحې څخه زیات عاید په لاس راشي او د کرنې په سکتور کې شته ناخوالې له منځه یوسي. د کرنې پوهنځی تل کوشش کوي تر څو د تدریس تر څنگ د علمي تحقیقاتو په اساس د هیواد او سیمې په کچه د ستونزو په حلولو کې کلیدي رول ولوبوي او همدا چاره تر ډیره بریده د له اړونده ذیربط ریاستونو سره په پوره تفاهم سره تر سره شوې ده، چې اړوند تحقیقات یې د کرنې او مالداري په برخه کې تر سره کړي دي او د خپلو عملي او تحقیقاتي څېړنو پایلې یې له اړونده ریاستونو سره شریکې کړي دي. د کرنې پوهنځی د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کې له مخکښ پوهنځي څخه شمیرل کیږي چې د پوهنتون په کچه په زیاته اندازه تحقیقات، مجهز اداري او تدریسي ځانگړی تعمیر، لوړ رتبه استادان، یو ښه کتابتون او همدارنگه دوه بابه تحقیقاتي شنې خونې لري. چې استادان او محصلان د عملي څېړنو په پار ترې استفاده کوي.

په ډیر درنښت

پوهنیار سیدالرحمن مجیدي

د کرنې پوهنځي سرپرست رئیس

## د کرنې پوهنځي لنډه پیژندنه



کرنې پوهنځی چې د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې یو شته پوهنځی ګڼل کېږي په ۱۳۹۳ هجرې لمریز کال کې تأسیس شوی دی او په دوو څانګو هارټیکلچر او د حیواني علومو په څانګه کې څوان، ژمن او مسلکی کاري ځواک ټولنې ته وړاندې کوي. د دې پوهنځي په هارټیکلچر څانګه کې شپږ تنه استادان ګمارل شوي دي، چې څلور تنه یې د ماستري تحصیلي درجې لرونکي چې له جملې څخه یې دري تنه یې د پوهنیار علمي رتبې او یو تن پوهنمل علمي رتبې لرونکی دی او پاته دوه تنه یې د لیسانس ترکچې زده کړې لري او تر دا مهاله ټول د نوماند پوهنیار علمي رتبې لرونکي دي. د حیواني علومو په څانګه کې هم څلور تنه استادان په دنده ګمارل شوي دي، چې دوه تنه یې ماستر د پوهنیار علمي رتبې لرونکي او دوه تنه یې د لیسانس تحصیلي درجې لرونکي او د نوماند پوهنیار علمي رتبې لرونکي دي. د پوهنځي د دې لس تنه استادانو له جملې څخه یې یو تن د پوهنځي د رئیس او دوه تنه یې د څانګو د رسمي آمرینو په توګه دنده پر مخ وړي. د کادرې غړو ترڅنګ په پوهنځي کې یو تن عمومي تدریس مدیر، یو تن د څانګو اجرائیه مدیر، یو تن لابرانت، یو تن د کتابتون مدیر او درې تنه خدماتو کارکوونکي هم په دنده ګمارل شوي دي. همدارنګه د کرنې پوهنځي تر دا مهاله له دونه ګونو څانګو څخه ۵۷۱ تنه علمي کادرونه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي او د ۲۷۹ تنو شاوخوا محصلین بر حال په تدریس بوخت دي.

په دې پوهنځي کې د لوړو زده کړو محترم وزارت له خوا د تائید شوي کریکولم او درسي مفرداتو مطابق له ملي او علمي معیارونو او ستندردونو سره سم تدریس تر سره کېږي. د کرنې پوهنځي تحصلي دوره اته سمستره په نظر کې نیول شوی دی، چې په څلورو تحصیلي کلونو کې تکمیل کېږي. په دې پوهنځي کې تر پنځم سمستر پورې په دواړو څانګو کې مضامین په مشترک ډول لوستل کېږي او له پنځم سمستر څخه تر فراغت پورې د دواړو څانګو تخصصي مضامین یو له بل سره بېل وي خو یو شمېر نور عمومي او اساسي مضامین بیاهم په دواړو څانګو کې په مشترک ډول تدریس کیږي. په دې څلور کلن روزنیز پروګرام کې ۱۶۱ کریډیټه په نظر کې نیول شوي دي چې د کریډیټ سیستم لایحې ته په کتنې سره پوهنځی کولای شي چې لږ تر لږه ۱۳۸ کریډیټه بشپړ کړي. کریډیټ هغه درسي واحد دی، چې د هغه په اساس د سمسترونو په توپیر سره د تحصلي دورې نصاب او همدارنګه په دې نصاب کې د هر مضمون ونډه ټاکل کېږي.

د کرنې پوهنځی خپل تدریسي تعمیر لري او یاد تعمیر د هند سفارت په مالي مرسته جوړ او په ۱۳۹۸ کال کې ګټې اخیستنې ته سپارل شوی چې ټوټل ۳۰ تدریسي او اداري اطاقونه لري.

## د کرنې پوهنځي ارزښت:

پوهېږو چې کرهنه او مالداری د ملي اقتصاد د پیاوړي کیدو مهمه برخه دهدا سکتور په حقیقت کې د خلکو ژوند تامینوي د ګران هیواد افغانستان د اقتصاد په ټینګښت او ثبات کې د کرنیزو محصولاتو ارزښت خورا څرګند دي په هره اندازه چې زموږ کرنیز تولیدات زیاتیږیو په هماغه اندازه د خلکو نیکمرغي او د ژوند سطح لوړه ځي، ځکه نو د کرنیزي سکتورو د پراختیا او پرمختیا مرحلي زموږ په هیواد کې باید تر هر څه دمخه ولټول شي تر ټولو اقتصادي ، اجتماعي، سیاسي او نظامي برخو بنیاد تشکیلوي او د سالم اقتصاد تصمیم نیوونهکي دي د پیار غوني ټول اړخونه یومنظمر پلان ته اړتیا لري چي باید د احصاییوي ارقامو په اساس د جامعي راتلونکي ستونزي حل کړي.په تاسف سره تیر شوی ناورین د ګران هیواد په کرنه او مالداری باندې ناوړه اغیزه کړې ده او د خلکو ستونزو نورې هم ورسره زیاتې شوې دي. باید خپلې ټولي پروژې د یوه منظم پلان په چوکاټ د عمل ډګر ته ورپیاده کړو تر څو دکروندګرو او مالدارانو په ژوندانه کې مثبت

بدلون راشي او له بلې خوا دخلکو په روغتيايي حالت، چاپيريال ســاتلو او ښــکلا کې مهم رول ولوبوي دا کرني هغه وخت امکان پيداکوي چې دکرني او مالداري په څانګو کې مســلکي او علمي کادرونه ولرو چې د روزني ځای يې د کرنې پوهنځی او په هغه پورې اړوند د ډيپارټمنتونه شـميرل کيږي تر څو ځوان فارغان، علمي کادرونه او د همدې څانګو متخصـصـين د خپلو هيواد والو لپاره په عملي توګه خدمت جوګه وګرځي په نتيجه کې پرتې ستونزي لري او د خلکو هوسايني ، سوکالي او ښه ژوند وسيله په وګرځي.

## د کرنې پوهنځي د رهبري سلسله:

د کرنې پوهنځي په (۱۳۹۳) لمريز کال کې بنياد کېښودل شو. په هغه وخت کې د کرنې پوهنځي اداري او تدريسي ځانګړې ودانۍ نه درلوده، او ټولې اداري او تدريسي چارې يې د شرنې پخواني مرکزي دارالعلوم (اوسني پوهنتون) په ودانۍ کې تر سره کيدلې. مګر د وخت په تيريدو سره په ۱۳۹۸ لمريز کال د هندوستان د سفارت پواسطه د کرنې پوهنځي ته ځانګړې ودانۍ جوړه شوه چې ياده ودانۍ دوه منزلونه او همدارنګه ټولټال ۳۰ ادراي او تدريسي اطاقونه لري. نن ورځ د پوهنتون او پوهنځي د رهبري په ځانګړي لطف او پريمانه تلاشونو په نتيجه کې د کرنې پوهنځي ټول اداري او تدريسي اطاقونه په معاصره نوې تکنالوژۍ (کيمرې، سکرينونو. پراجکتور، ديوالي ساعت، لاوډسپيکرونو، انټرنيټ او منظمو چوکيو) سمبال شوي دي. د کرنې پوهنځي د رياست پوسټ له ايجاد نه تر نن ورځ پورې په لاندې ډول ليکلای شو.


- ❖ پوهنيار عبدالقدوس کريمي (د کرنې پوهنځي لمړنی سرپرست رئيس ۱۳۹۳- ۱۳۹۴ لمريز ليږديز کال).
- ❖ پوهنمل محمد طارق درويش (د کرنې پوهنځي دوهم رئيس ۱۳۹۵-۱۳۹۶ لمريز ليږديز کال).
- ❖ پوهنيار محمد بلال هلال (د کرنې پوهنځي دريېم رئيس ۱۳۹۷-۱۳۹۸ لمريز ليږديز کال).
- ❖ پوهنيار مختار احمد ساجد (د کرنې پوهنځي څلورم سرپرست رئيس ۱۳۹۸ لمريز ليږديز کال).
- ❖ پوهنيار ذبيح الله عابد (د کرنې پوهنځي پنځم رئيس ۱۳۹۹-۱۴۰۳ لمريز ليږديز کال).
- ❖ پوهنمل محمد يوسف واحديار (د کرنې پوهنځي شپږم سرپرست رئيس ۱۴۰۳ لمريز ليږديز کال).
- ❖ پوهنيار سيدالرحمن مجيدي (د کرنې پوهنځي اووم سرپرست رئيس ۱۴۰۳ لمريز ليږديز کال).

## د کرنې پوهنځي لاسته راوړني:

- کرنې پوهنځي په تشکيل کې رياست، معاونيت او تدريسي مديريت لري چې د ميزونو او چوکيو برسيره د انټرنيټ اســانيتا هم په کې شــته . يوه پايه د پرنټر او يوه پايه کمپيوټر د چارو د ســمون لپاره په هر دفتر کې په کار اچول شويدي. اداري ځانګې ټول په پاد پکو، الماريو، دفتري چوکيو، کوچونو او فرشونو سمبال دي. او يوه پايه د فوټو کاپي مجهز ماشين د پوهنځي په اختيار کې ده.
- ياد پوهنځی په لاندني پوړ کې اوه تدريسي اطاقونه په تدريسي لومړنيو وسايلو لکه ميز، چوکي، باد پکو، انټرنټ، لاوډسپيکرونو، سکرينونو او نورو وسايلو مجهز دي، لري.
- کرنې پوهنځي دوه فعال ديپارټمنټونه چې هر ډيپارتمنت په جدا ډول په ځانګړي پراخ او ښــه اطاق کې داســې تنظيم شويدی چې هر ديپارټمنت ته جلا ځای ورکول شوي، منظم فرنيچر، کوچونه، الماری، بادپکې، انټرنيټ، سرميزي تليفونونه او نور سهولتونو څخه برخمن دي.
- اوس مهال د پوهنځي په ســطح کتابتون د پوهنځي د رهبري او اســتادانو په همکاري جوړ شــويده. يو اطاق ورته ځانګړی شـوی چې په عصري پارتيشـن برسـيره ميزونه، چوکي ، الماري، بادپکو، فوټو کاپي ماشـين، او نژدې ( ) زره علمي او مسلکي کتابونه د استادانو او محصلينو د ګټې اخستلو لپاره په کې شتون لري.

- د کنفرانس اطاق په نژدې ورځو کې د پوهنځي ریاست او د استادانو په همکاري فعال شـويدي چې د ميزونو او چوکيو برسيره مولتيي ميډيا، سکرين او د باد پکو سهولت لري.
- د پوهنځي لپاره د یو منظم او مجهز لابراتوار پیشـنهاد د پوهنتون د قدرمنې رهبري په همکاري د لوړو زده کړو د محترم وزیر صـاحب څخه د ۵ ميليونه افغانيو په ارزښت اخيستل شـوی چې په لنډ وخت کې به خريداري او د پوهنځي لانديني پوړ کې به ور ته یو مجهز اطاق مشخص شي.
- في الحال د محصـلينو د علمي پروژو د اجرا او د اسـتادانو د علمي څيړنو د تر سراوي لپاره یو باب د غوښـينو چرګانو ابتدايي فارم او همدرانګه دوه بابه ګلخاني لري.
- کرنې پوهنځی د پکتيکا ولايت د کرنې، اوبو لګولو او مالداري ريا ست سره د همکاريو تفاهم نامه لا سليک کړې چې له مخې يې ګلالي محصلين هلته د علمي کار لپاره له رهنما استاد سره ځي.
- کرنې پوهنځی د یو منظم ۵ کلن تائيد شوي ستراتيژيک پلان درلودونکی ده چې په عملياتي پلانونو کې يې اوليت تحقيقاتو او نوښتونو ته ورکړل شوی او هر کال د یو منظم چک لیست پواسطه ارزول کيږي.
- کرنې پوهنځی د یو معياري او د بازار د شرايطو سره سـم منل شـوی کريکولم لري چې تر اوسـه پورې څو ځله د لوړو زده کړو وزارت د تحصيلي نصاب د رياست لخوا د کرنې پوهنځيو د کلسترونو پواسطه نوی شوی.


## د کرنې پوهنځي تشکيلاتي چارت




(پورته ډياګرام د کرنې پوهنځي نوی تشکيل را ښيئ)

## د کرنې پوهنځي د استادانو احصائیه

د کرنې پوهنځی ټولټال ۱۰ تنه استادان لري چې له جملې څخه يې د علمي رتبې په اساس ۳ تنه پوهنمل، ۴ تنه پوهنيار، ۳ تنه نامزد پوهنيار او همدارنګه د تحصيلي سويې په اساس ۴ تنه ماستران، ۳ تنه لسانس او ۳ تنه د فوق لسانس درجې لرونکي دي.




(پورته ګراف د کرنې پوهنځي د استادانو احصائیه د رتبې او علمي سويې په اساس را ښئي)

## لرليد (Vision)

د کرنې پوهنځی به د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د کرنيزو علومو په برخه کې د پوه، ژمن، مسلکي او متخصصو افرادو په روزلو سره د هيواد په کچه سيال او با کيفيته پوهنځی وي.

## ماموريت (Mission)

د کرنې پوهنځی د اکادميک چاپيريال په لرلو سره د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې د اړتيا مطابق په ملي کچه سيال او باکيفيته تدريس، تحقيق او خدمات وړاندې کوي.

## د کرنې پوهنځي ارزښتونه

- پوهنتون ته ژمنتيا
- صداقت او ريښتينولي
- له سمتي، نژادي، قومي، لساني او مذهبي تبعيض څخه لريوالی.
- مسلکيتوب
- د ځواب ورکوونې توانايي
- اخلاق او کرامت

## د کرنې پوهنځي ستراتيژيکې موخې

د کرنې پوهنځي عمده ستراتيژيکې موخې په لاندې ډول دي:

- په اسلامي، ملي او مسلکي روحيه د محصلانو روزل.
- د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژيو او لوړو وزارت د قوانينو، لوايحو او طرزالعملونو سره سم د کرنيزې مسلکې پوهې تر لاسه کول او په ټولنه کې ترويجول.
- محصلانو ته د اوبو، نبات او خاورې د ادارې او تنظيم په برخه کې پوهه ورکول او د ستونزو ته د حل لارې پيداکول.
- محصلانو ته د هارټيکلچري محصولاتو د توليد، پروسيس، روزنې او بازار موندنې په برخو کې کافي معلومات ارايه کول او په ورځني ژوند کې تطبيقول.
- محصلانو ته د مختلفو اهلي څارويو د روزلو، ادارې، تنظيم او د مختلفو حيواني محصولاتو د پروسيس او بازار موندې په برخه کې کافي معلومات وړاندې کول.
- محصلانو ته د کرنې او مالدارې سکتور په برخه کې د خامو موادو د برابرولو او کروندګرو د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې کافي معلومات ارايه کول.
- ګلالي محصلين به د فراغت څخه ورسته د ټولنې په مختلفو برخو او کار بازار کې د مسلکي کار او غوره محصول د توليد توانايي ولري.
- برحال محصلينو ته د پوهې د خپرولو په اړوند سالمه لاربښوونه او انګيزه ورکول؛
- د پکتيکا ولايت له دولتي او غير دولتي نهادونو سره د ښو اړيکو ساتنه او له هغوی سره د علمي همکاريو د هوکړه ليکونو (تواميتونو) لاسليکول؛
- د پوهنتون موخې تعقيبول.

## د کرنې پوهنځي د استادانو پيژندنه

د کرنې پوهنځي د استادانو بيوګرافي په لاندې توګه تشريح شوې ده.



نوم او تخلص: سيدالرحمن مجيدي

د پلار نوم: عبدالمجيد

علمي رتبه: پوهنيار

تحصيلي درجه: ماستر

تخصصي رشته: زينتي نباتات (ګياهان زينتي)

(لسانس د خوست شيخ ذايد پوهنتون او ماستري د ايران هيواد لرستان نړيوال پوهنتون څخه لري)

اصلي او فرعي اثار: ۹ (تيزيس او مقالې)

د تقرر نيټه: ۱۹/۹/۱۳۹۶


د تولد کال: ۱۳۷۲ه ش.

د تليفون شماره: ۰۰۹۳۷۲۸۳۵۹۴۵۹ / ۰۰۷۸۵۷۵۹۵۹۲

ايميل ادرس: Sayedrahman7770@gmail.com

اکادميک موقف: ( د هارټيکلچر څانګې استاد او د کرنې پوهنځي سرپرست رئيس).

---



نوم او تخلص: محمدطارق درويش

د پلار نوم: ګل زمان

علمي رتبه: پوهنمل

تحصيلي درجه: ماستر

تخصصي رشته: ميوه کاري ( ميوه جات)

( لسانس د غزني پوهنتون او ماستري د ايران هيواد زنجان نړيوال پوهنتون څخه لري)

اصلي او فرعي اثار: ۱۰ (تيزيس، ترفيع اثر او مقالې)

د تقرر نيته: ۲۶/۱/۱۳۹۳

د تولد کال: ۱۳٦۸ه ش.

د تليفون شماره: ۰۰۹۳۷۹۹۸۷٦۰۱۳ / ۰۰۹۳۷۴۴۷٦۲۹۹۴

ايميل ادرس: tariqdarwis143@gmail.com

اکادميک موقف: ( د هارټيکلچر څانګې استاد او آمر).

---



نوم او تخلص: عبدالمجيد بنډارخيل

د پلار نوم: حاجي محمد

علمي رتبه: پوهنيار

تحصيلي درجه: فوق لسانس

تخصصي رشته: عمومي

( لسانس د ننګرهار پوهنتون او ماستري نلري)

اصلي او فرعي اثار: ۲ (مقالې)

د تقرر نيته: ۱۹/۹/۱۳۹٦

د تولد کال: ۱۳۷۲ه ش.

د تليفون شماره: 0093791722995

ايميل ادرس: majeedbandarkhil123@gmail.com

اکادمیک موقف: ( د حیواني علومو څانګې استاد او آمر).

---



نوم او تخلص:  محمد یوسف واحدیار

د پلار نوم:  نظر خان

علمي رتبه: پوهنمل

تحصیلي درجه: ماستر

تخصصي رشته: عمومي

( لسانس د ننګرهار پوهنتون او ماستري د کابل پوهنتون څخه  لري)

اصلي او فرعي اثار: ۷ (تیزیس ، ترفیع اثر او مقالې)

د تقرر نیټه: ۲۱/۹/۱۳۹۶

د تولد کال:  ۱۳۷۱ه ش.

د تلیفون شماره: ۰۰۹۳۷۹۰۱۱۱۰۱۴ / ۰۰۹۳۷۸۹۷۲۴۷۲۲

ایمیل ادرس: m.yousof.wahidyar@gmail.com

اکادمیک موقف: ( د پوهنتون د علمي او محصلانو چارو مرستیال او د حیواني علومو څانګې استاد).

---



نوم او تخلص:  ذبیح الله عابد

د پلار نوم:  رحمت الله

علمي رتبه: پوهنیار

تحصیلي درجه: ماستر

تخصصي رشته: توسعه و پایداري

( لسانس د غزني پوهنتون او ماستري د ایران هیواد د ګرګان له نړیوال پوهنتون څخه  لري)

اصلي او فرعي اثار: ۴ (تیزیس ، ترفیع اثر او مقالې)

د تقرر نیټه: ۱۳۹۲

د تولد کال: ۱۳٦۸ه ش.

د تلیفون شماره: ۰۰۹۳۷۸۳۴۴٦٦۸٦ / ۰۰۹۳۷۴۴۹۹۲۰۹۰

ایمیل ادرس: Zabiullahabid1369@gmail.com

اکادمیک موقف: ( د غزني تخنیکي پوهنتون د  تحقیقاتو مرستیال او د هارتیکلچر څانګې استاد)

---



نوم او تخلص: محمد بلال هلال

د پلار نوم: سید محمد

علمي رتبه: پوهنیار

تحصیلي درجه: فوق لسانس

تخصصي رشته: عمومي

( لسانس د ننګرهار پوهنتون او ماستري نلري )

اصلي او فرعي اثار: ۲ (مقالې)

د تقرر نیټه: ۲۲/۹/۱۳۹٦

د تولد کال: ۱۳۷۱ه ش.

د تلیفون شماره: 0093771078880

ایمیل ادرس: mbhilal444@gmail.com

اکادمیک موقف: ( د حیواني علومو څانګې استاد).

---



نوم او تخلص: روح الله نیازی

د پلار نوم: عبدالستار

علمي رتبه: پوهنمل

تحصیلي درجه: ماستر

تخصصي رشته: سبزیجات یا سبزیکاري

( لسانس د ننګرهار پوهنتون او ماستري د روسیې هیواد څخه لري)

اصلي او فرعي اثار: ۷ (تیزیس، ترفیع اثر او مقالې)

د تقرر نیټه: ۲٦/۱/۱۳۹۳

د تولد کال: ۱۳٦۸ ش.

د تلیفون شماره: ۰۰۹۳۷۸۱٦۰۸۱۹۱

ایمیل ادرس: rohullahniazi6@gmail.com

اکادمیک موقف: ( هارټیکلچر څانګې استاد ).

---

نوم او تخلص: ریاض احمد همت

د پلار نوم: یار محمد



علمي رتبه: نوماند پوهنیار

تحصیلي درجه: لسانس

تخصصي رشته: عمومي

(لسانس د لغمان پوهنتون څخه او ماستري نلري)

اصلي او فرعي اثار: ۱ (تیزیس او مقالې)

د تقرر نیټه: ۱۵/٦/١٤٠١

د تولد کال: ۱۳۷۵ه ش.

د تلیفون شماره: ۰۰۹۳۷۷۴۱۷۳۲۹۸

ایمیل ادرس: riazahmadhemat@gmail.com

اکادمیک موقف: (د هارټیکلچر څانګې استاد).

---



نوم او تخلص: حکمت الله رحیمي

د پلار نوم: رحیم ګل

علمي رتبه: نوماند پوهنیار

تحصیلي درجه: لسانس

تخصصي رشته: عمومي

(لسانس د کندهار پوهنتون څخه او ماستري نلري)

اصلي او فرعي اثار: ۱ (مقاله)

د تقرر نیټه: ۲۴/۲/۱۳۹۸

د تولد کال: ۱۳۷۲ه ش.

د تلیفون شماره: ۰۰۹۳۷۸۴۸۲۰۸۰۱

ایمیل ادرس: hikmat.rahimi786@gmail.com

اکادمیک موقف: (د حیواني علومو څانګې استاد

---



نوم او تخلص: میا خان محمدي

د پلار نوم: محمد خان

علمي رتبه: پوهنیار

تحصیلي درجه: فوق لسانس

تخصصي رشته: عمومي

(لسانس د خوست شيخ ذايد پوهنتون او ماستري نلري)

اصلي او فرعي اثار: ۲ (مقالې)

د تقرر نیته: ۲۴/۷/۱۴۰۳

د تولد کال: ۱۳۷۷ه ش.

د تليفون شماره: ۰۰۹۳۷۷۳۵۴۴۱۷۷ / ۰۰۹۳۳۲۴۰۹۰

ايميل ادرس: miamohammadi123@gmail.com

اکادمیک موقف: (د حيواني علومو څانګې استاد)

---

نوم او تخلص: ميرويس عزيزي

د پلار نوم: عبدالعزيز

علمي رتبه: نوماند پوهنيار



تحصيلي درجه: لسانس

تخصصي رشته: عمومي

(لسانس د پکتيکا پوهنتون څخه او ماستري نلري)

اصلي او فرعي اثار: نلري

د تقرر نیته: ۱۲/۷/۱۴۰۳

د تولد کال: ۱۳۷۲ه ش.

د تليفون شماره: ۰۰۹۳۷۹۰۱۹۳٦۷۳

ايميل ادرس: mirwaisazizi9890@gmail.com

اکادمیک موقف: (هارتيکلچر څانګې استاد).

---

نوم او تخلص: ذين الله حازم

د پلار نوم: نادرعلي

علمي رتبه: پوهندوی

تحصيلي درجه: دکتر

تخصصي رشته: نسلګيري

(ماستري هند هيواد او دکترا د سعودي عربستان هيواد د عبدالعزيز السعود له پوهنتون څخه لري)

اصلي او فرعي اثار: (مقالې، تيزيسونه، ترفيعي اثر)

د تقرر نیته: ۲۶/۱۲/۱۳۸۵

د تولد کال: ۱۳۵۹ ه ش.

د تلیفون شماره: ۰۰۹۳۷۷۸۱۴۱۲۷۱

ایمیل ادرس: hazim.zainullah3@gmail.com

اکادمیک موقف: (د هارټیکلچر څانګې استاد)

## د کرنې پوهنځي د څانګو پېژندنه


کرنې پوهنځی چې په ۱۳۹۳ ل ل. کال کې یې خپل فعالیت پیل کړی ده د فعالیت له پیل سره سم یې په دوه تخصصي څانګو کې یې د ګران هیواد بچیانو ته په مسلکي او تخصصي روزنه لاس پورې کړی ده. چې یادې څانګې له هارټیکلچر یا باغداري او همدارنګه بل د حیواني علومو له څانګو څخه عبارت دي، چې په لاندې توګه به دواړه څانګې تشریح شي.

### ۱: هارټیکلچر څانګه:

پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه په (۱۳۹۱ هـ.ل) کال کې په پکتیکا ولایت کې د ښوونې او روزنې پوهنځي په درلودلو سره تأسیس شوه. په (۱۳۹۳)کال کې د نوموړي مؤسسې په تشکیل کې د زراعت پوهنځی هم منځ ته راغی. چې یاد پوهنځي په خپل چوکاټ کې ۲ څانګې درلودې چې له هارټیکلچر او علوم حیواني څخه عبارت دي. د هارټیکلچر څانګې له ایجاد سره سم د ۳ تنو کادري استادانو په واسطه خپلې تدریسي او اداري چارې پر مخ وړلې او همدارنګه په لمړي ځل یې په ۱۳۹۶ کال کې تنه محصلین ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړل اوس مهال یاده څانګه ۵ تنه کادري استادان لري چې له جملې څخه یې ۳ تنه ماستران او ۲ تنه د لسانس په کچه لوړې زده کړې لري او همدارنګه ۲ تنه استادان د پوهنمل علمي رتبې لرونکي او یو تن د پوهنیار علمي رتبې لرونکی او ۲ تنه د نوماند پوهنیار علمي رتبې لرونکي دي، په یاده څانګه کې اوس مهال ټولټال محصلین په زده کړو بوخت دي.

### هارټیکلچر څانګې د ۱۴۰۳ کال د استادانو او محصلانو احصائیه

د هارټیکلچر څانګه ټولټال ۷۷ تنه محصلین او همدارنګه ۵ تنه کادري استادان لري چې په لاندې ډول یې د استادانو رتبې، تحصیلي درجې او همدارنګه د محصلینو احصائیه ذکر شوې ده.



(۱ګراف د هارټیکلچر څانګې د محصلانو احصائیه راښئي)

## د هارټیکلچر څانګې د استادانو احصائیه





(۲ګراف د هارټیکلچر څانګې د استادانو احصائیه راښئي)

## د هارټیکلچر څانګې کمیټوې جوړښتونه

- ❖ د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټه
- ❖ د نصاب کمیټه
- ❖ د تضمین کیفیت کمیټه
- ❖ د تحقیق یا علمي څیړنو کمیټه

## د هارټیکلچر څانګې تشکیلاتي چارټ

د هارټیکلچر څانګې تشکیکلاتي چارټ په لاندې ډیاګرام کې ښودل شوی ده.



( پورتنی ډیاګرام د کرنې پوهنځي د هارټیکلچر څانګې تشکیل راښئي )

## د هارټیکلچر څانګې لیدلوری (Vision)

د هارټیکلچر ډیپارټمنټ به د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د هارټیکلچر اړوند علومو او هنر په برخه کې د پوه، ژمن او مسلکي اشخاصو په روزلو سره د پوهنتون په کچه سیال او با کیفیته ډیپارټمنټ وي.

## د هارټیکلچر څانګې ماموریت (Mission)

د هارټیکلچر ډیپارټمنټ د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او باکیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.

## هارټیکلچر څانګې ارزښتونه (Values)

- ټول اسلامي او ملي ارزښتونه په پام کې نیول؛
- حساب ورکوونه؛
- مسلک ته ژمنتیا؛
- صداقت او ریښتینولي؛
- له سمتي، نژادي، قومي، لساني او مذهبي تبعیض څخه لریوالی؛
- مسلکیتوب؛
- د ځواب ورکوونې توانايي؛
- د همکارۍ او همغږۍ پیاوړې روحیه؛

## ستراتیژیکې موخې (Strategic Goals)

تر راتلونکي (۳) دریو کلونو پورې د هارټیکلچر څانګې ستراتیژیکې موخې د لوړو زده کړو وزارت د لس ګونو موخو په رڼا کې ټاکل شوېدي، چې عبارت دي له:


- په اسلامي، ملي او مسلکي روحیه د محصلانو روزل.
- د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژیو او لوړو وزارت د قوانینو، لوایحو او طرزالعملونو سره سم د هارټیکلچر اړوند مسلکي پوهې تر لاسه کول او په ټولنه کې ترویجول.
- محصلانو ته د هارټیکلچري محصولاتو د روزنې، تولید، پروسیس او بازار موندنې په برخو کې کافي معلومات ارایه کول او په ورځني ژوند کې تطبیقول.
- محصلانو ته د هارټیکلچر سکتور په برخه کې د خامو موادو د برابرولو او کروندګرو د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې کافي معلومات ارایه کول.
- محصلین به د فراغت څخه وروسته د ټولنې په مختلفو برخو او د کار په بازار کې د مسلکي کار او غوره محصول د تولید توانايي ولري.
- برحال محصلینو ته د پوهې د خپرولو په اړوند سالمه لارښوونه او انګیزه ورکول؛
- د پوهنځي موخې تعقیبول.

### ۲: حیواني علومو څانګه:

پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه په (۱۳۹۱ هـ.ل) کال کې په پکتیکا ولایت کې د ښوونې او روزنې پوهنځي په درلودلو سره تأسیس شوه. په (۱۳۹۳) کال کې د نوموړي مؤسسې په تشکیل کې د زراعت پوهنځی هم منځ ته راغی. چې یاد پوهنځي په خپل چوکاټ کې ۲ څانګې درلودې چې له هارټیکلچر او حیواني علومو څخه عبارت دي. د حیواني علومو څانګې له ایجاد سره سم یادې څانګې ته خپل رسمي استادان کامیاب نشول او تر ۱۳۹۶ لمریز لیږدیز کال پورې د کرنې پوهنځي د غوره رهبرۍ او خاص تلاشونو په نتیجه کې د هارټیکلچر څانګې د استادانو او همدارنګه د قراردادي استادانو پواسطه اوله دوره محصلین تولنې د خدمت په موخه وړاندې کړل، په ۱۳۹۷ کال کې نوموړې څانګې ته ۳ تنه رسمي استادان کامیاب شول. همدارنګه په لمړي ځل یې په ۱۳۹۶ لمریز لیږدیز کال کې ( ) تنه محصلین ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړل. چې اوس مهال یاده څانګه ۵ تنه رسمي استادان لري چې له جملې څخه یې ۱ تنه ماستر او ۳ تنه د فوق لسانس او یو تن یې د لسانس په کچه لوړې زده کړې لري او همدارنګه ۱ تن استاد د پوهنمل علمي رتبې لرونکي او ۳ تنه د پوهنیار علمي رتبې لرونکي او ۱ تن د نوماند پوهنیار علمي رتبې لرونکی دی، په یاده څانګه کې اوس مهال ټولټال ( ) محصلین په زده کړو بوخت دي.


### د حیواني علومو څانګې تشکیل

د حیواني علومو د څانګې تشکیلاتي چارت په لاندې ډیاګرام کې ښودل شوی ده.





(پورته ډیاګرام د حیواني علومو څانګې تشکیل را ښئي)

### د حیواني علومو څانګې د استادانو احصائیه



(پورته گراف دحیواني علومو د څانگې د استادانو احصائیه د رتبې او علمي سویې په اساس را ښئې)

## د کرنې پوهنځي د علوم حیواني څانکې د محصلینو احصائیه




(پورته گراف د کرنې پوهنځي د حیواني علومو د څانگې د محصلانو احصائیه را ښئې)

### د حیواني علومو څانگې لرلید (Vision)

د حیواني علومو څانگه به د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د حیواناتو د روزنې، تغذیې، نسل اصلاح، حیواني محصولاتو پروسیس او ساتنې په برخه کې د پوهو، ژمن او مسلکي افرادو په روزلو سره د هیواد په کچه سیاله او پرمختللې څانگه وي.

### د حیواني علومو څانگې ماموریت (Mission)

د حیواني علومو څانگه د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او باکیفیته تدریس، څیړنې او خدمات وړاندې کوي.

### د حیواني علومو څانگې ارزښتونه

- ❖ څانگې ته ژمنتیا
- ❖ صداقت او ریښتینولي
- ❖ له سمتي، نژادي، قومي، لساني او مذهبي تبعیض څخه لریوالی.
- ❖ مسلکیتوب
- ❖ د خوب ورکوونې توانایي
- ❖ اخلاق او کرامت.

### د حیواني علومو څانگې ستراتیژیکې موخې

- ❖ په اسلامي، ملي او مسلکي روحیه د محصلانو روزل.

- د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژیو او لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، لوایحو او طرزالعملونو سره سم د حیواني علومو اړوند مسلکې پوهې تر لاسه کول او په ټولنه کې ترویجول.
- محصلانو ته د حیواناتو د روزنې، محصولاتو تولید، پروسیس، ذخیرې او بازارموندنې په برخو کې کافي معلومات ورکول او په ورځني ژوند کې تطبیقول.
- محصلانو ته د مختلفو اهلي څارویو د روزلو، اداري، تنظیم او د مختلفو حیواني محصولاتو د پروسیس او بازار موندې په برخه کې کافي معلومات وړاندې کول.
- محصلانو ته د مالداري سکتور په برخه کې د خامو موادو د برابرولو او مالدارانو د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې کافي معلومات ارایه کول.
- ګلالي محصلین به د فراغت څخه ورسته د ټولنې په مختلفو برخو او کار بازار کې د مسلکي کار او غوره محصول د تولید توانايي ولري.
- برحال محصلینو ته د پوهې د خپرولو په اړوند سالمه لارښوونه او انګیزه ورکول؛
- د پوهنّځي موخې تعقیبول.

## د حیواني علومو څانګې کمیټوي جوړښتونه په لاندې ډول دي.

- د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټه
- د نصاب کمیټه
- د تضمین کیفیت کمیټه
- د تحقیق یا علمي څیړنو کمیټه

## د کرنې پوهنځي فارغ التحصیل محصلین:

| دوره | کال | د فارغ شوي محصلینو تعداد |
|---|---|---|
| لومړی دوره | ۱۳۹۶ | |
| دوهمه دوره | ۱۳۹۷ | |
| دریم دوره | ۱۳۹۸ | |
| څلورمه دوره | ۱۳۹۹ | |
| پنځمه دوره | ۱۴۰۰ | |
| شپږمه دوره | ۱۴۰۱ | |
| اوومه دوره | ۱۴۰۲ | |
| اتمه دوره | ۱۴۰۳ | |
| مجموعه | | |


## د کرنې پوهنځي کمیټوي جوړښتونه

د کرنې پوهنځی د مجرب، متعهد، مسلکي، متخصص او ژمن کاري ټیم او کادري پرسونل په درلودلو سره یو شمیر کمیټې لري چې کمیټوي فعالیتونه یې په منظم شکل سره مخ ته ځي او همدارنګه هر کال د کمیټوي جوړښتونو په تشکیل باندې بیا غور کیږي او د مکافاتو او مجازاتو د اصل له مخې یې د منظمو چک لستونو په اساس ارزونه تر سره کیږي په میاشتنۍ ډول راپورنه، مصؤبې او همدارنګه د خپلو فعالیتونو راپور له اړونده مراجعو سره شریکوي. د کرنې پوهنځی په خپل تشکیل کې د علمي شورا په شمول لاندې کمیټې لري.

### ۱: د پوهنځي علمي شورا:

کرنې پوهنځي چې منظمه علمي شورا لري او هره میاشت په منظم ډول د مهال ویش له مخې نوبتي ناستې تر سره کوي، په داسې حال کې چې د یادې شورا رهبري د پوهنځي د رئیس له خوا، منشي یې د پوهنځي تدریسي لوی مدیر او همدارنګه غړي یې د دواړو څانګو محترم امرین او استادان دي، یاده شورا ۸ غړي لري.







د علمي شورا تصویر

د علمي شورا تشکیل


### ۲: د تضمين کيفيت کميټه:

د تضمين کيفيت کميټه د پوهنځي له مهمو کميټو څخه شميرل کيږي چې په لاندې ډياګرام کې يې تشکيل ښودل شوی ده، په ياده کميټه کې ۷ غړي شتون لري چې د دواړو څانګو له استادانو څخه انتخاب شوی او د پوهنځي د علمي شورا له خوا تائيد شوي د




### ۳: د علمي څيړنو يا تحقيق کميټه:


د علمي څيړنو کميټه د پوهنځي له مهمو کميټو څخه شميرل کيږي چې په لاندې ډياګرام کې يې تشکيل ښودل شوی ده، ياده کميټه کې ۷ غړي شتون لري چې د دواړو څانګو له استادانو څخه انتخاب شوی او د پوهنځي د علمي شورا له خوا تائيد شوي دي. د تحقيق کميټه تل هڅه کوي تر څو د سليمان غر مجلې لپاره چې د پوهنتون داخلي ملي ژورنال ده د نوبتي خپرونو لپاره د پوهنځي په کچه خپله اماده ګي ونيسي او د ياد چارې لپاره د بې سارې کوششونو په نتيجه کې تر دا مهاله د کرنې پوهنځی د نورو پوهنځيو په پرتله لمړي مقام ته رسولی ده.




### ۴: د ستراتيژيک پلان د تدوين او نظارت کميټه:


د ستراتيژيک پلان د تدوين او نظارت کميټه د پوهنځي له مهمو او معتبرو کميټو څخه شميرل کيږي چې په لاندې ډياګرام کې يې تشکيل ښودل شوی ده، په ياده کميټه کې ۷ غړي شتون لري چې د دواړو څانګو له استادانو څخه انتخاب شوی او د پوهنځي د علمي شورا له خوا تائيد شوي دي. ياده کميټه چې خپل فعاليتونه يې د پوهنځي او څانګو په کچه د نويو ستراتيژيک پلانونو د تدوين، په ستراتيژيک پلانونو په تهيه او ترتيب باندې د اګاهي او پوهيدنې سيمنارونه او همدارنګه د

ستراتیژیک پلان عملیاتي پلانونو د تطبیق، ارزوني او ستراتیژیو د اجرا په پار خپلې کړنې تر سره کړې دي چې په پایله کې یې د پوهنځي په شمول دواړه څانګې د ستراتیژیک پلانونو څخه برخمنې دي.





### ۵: د نظم دسپلین او شکایاتو کمیټه:

د نظم دسپلین او شکایاتو کمیټه د پوهنځي له مهمو کمیټو څخه شمیرل کیږي چې په لاندې ډیاګرام کې یې تشکیل ښودل شوی ده، په یاده کمیټه کې ۷ غړي شتون لري چې د دواړو څانګو له استادانو څخه انتخاب شوی او د پوهنځي د علمي شورا له خوا تائید شوي دي.





### ٦: د کلتوري چارو او نشراتو کمیټه:

د کلتوري چارو او نشراتو کمیټه د پوهنځي له مهمو کمیټو څخه شمیرل کیږي چې په لاندې ډیاګرام کې یې تشکیل ښودل شوی ده، په یاده کمیټه کې ۷ غړي شتون لري چې د دواړو څانګو له استادانو څخه انتخاب شوی او د پوهنځي د علمي شورا له خوا تائید شوي دي.





## ۷: د نصاب کمیټه:

د نصاب کمیټه د پوهنځي له مهمو کمیټو څخه شمیرل کیږي چې په لاندې ډیاګرام کې یې تشکیل ښودل شوی ده، په یاده کمیټه کې ۷ غړي شتون لري چې د دواړو څانګو له استادانو څخه انتخاب شوی او د پوهنځي د علمي شورا له خوا تائید شوي دي.





## ۸: د ازموینو یا امتحاناتو کمیټه:


د ازموینو کمیټه د پوهنځي له مهمو کمیټو څخه شمیرل کیږي چې په لاندې ډیاګرام کې یې تشکیل ښودل شوی ده، په یاده کمیټه کې ۷ غړي شتون لري چې د دواړو څانګو له استادانو څخه انتخاب شوی او د پوهنځي د علمي شورا له خوا تائید شوي دي.



## د کرنې پوهنځي څېړنیز وضیعت

کرنې پوهنځی د دواړو څانگو د ۱۰ تنه مستعدو او مجربو استادانو په درلودلو سره په یو غوره څېړنیز وضیعت کې قرار لري، په داسې حال کې چې د یاد پوهنځي د هارټیکلچر څانگه د استادانو د داخلي او خارجي مقالو څېړنیزو اثارو شمیر تر ۳۵ پورې رسیږي. او د حیواني علومو څانگې د مقالواو څېړنیزو اثارو شمیر هم تر ۱۰ پورې رسیږي. یاده څېړنیزه کچه د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې په کچه ډیره لوړه او همدارنگه یاد پوهنځی د دې څېړنیز وضیعت افتخار لري. علاوه لدې څخه اوس هم استادان په تحقیقاتو بوخت دي تر څو د سیمې او منطقې شرایطو او د پوهنځي او مؤسسې امکاناتو ته په کتو سره د ستونزو د حل په موخه څېړنې تر سره کوي، یادې څېړنې په ساحوي، میداني او همدارنگه په لابراتوري شکل سره صورت نیسي چې له جملې څخه یې د حیواني علومو څانگې د غوښینو چرگوړو فارم او د هارټیکلچر څانگې تحقیقاتي گلخانې د دې چارې لپاره په اختیار کې لري.




د څانگو او پوهنځیوپه سطحه پوهنځي څېړنیز وضیعت

استادانو په سطحه د کرنې پوهنځي د څېړنو تعداد

همدارنگه دکرنې پوهنځی د معیاري نصاب په درلودلو سره د نظري زده کړو تر څنگ خپلو گلالیو محصلینو ته په عملي ډول هم د زده کړو زمینه برابره کړې ده چې په دې لړ کې د هارټیکلچر څانگې محصلان مختلفو باغونو او د کرنې، اوبو لگولو او مالداري ریاست سره د یو ښه توامیت له مخې عملي ساحاتو ته بیولې او له دې څخه علاوه د حیواني علومو گلالي محصلین یې د سیمې مختلفو د غواگانو، کبانو او غوښینو چرگانو فارمونو ته بیولي دي د پوهنتون د رهبرې سره په تفاهم او د هغوی په هڅو حسن نیت د یاد پوهنځي د گلالیو محصلانو لپاره د کابل پوهنتون ته هم د علمي سیر زمینه برابره شوې ده خو مگر د یو لړ مشکلاتو له امله دا کار د ۱۴۰۴ د حمل میاشتې ته پاته شوی ده.










کرني پوهنځي د باغداري




Galaxy S22 Ultra



## د کرنې پوهنځي اداري برخه

کرنې پوهنځی په خپل تشکیل کې ۴ مدیریتونه لري چې په لاندې ډول تشریح شوي دي.



### ۱: تدریسي لوی مدیریت:

نوم او تخلص: ممتاز مصداق

د پلار نوم: ښایسته خان

د زده کړو کچه: لسانس

تحصیلي رشته: ژورنالیزم (خوست شیخ ذاید پوهنتون څخه فارغ التحصیل)

د تقرر نیټه: ۸/۷/۱۳۹۱

تلیفون شماره: ۰۷۷۵۲۴۸۴۳۸

ایمیل ادرس: mumtazmesdaq@gmail.com

---



### ۲: څانګو اجرائیه مدیریت:

نوم اوتخلص: نیاز محمد پکتین

د پلار نوم: ازاد خان

د زده کړو کچه: لسانس

تحصیلي رشته: ښوونه او روزنه (پکتیکا پوهنتون څخه فارغ التحصیل)

د تقرر نیټه: ۲۳/۴/۱۴۰۳

د تلیفون شماره: ٠٧٩٧٠٢۴٩۴٠/٧٦۵۵٨٠٧٣٠

ایمیل ادرس: niazmpakten545@gmail.com

---



### ۳: لابراتوار مدیریت:

نوم اوتخلص: حسین احمد احمدیار

د پلار نوم: عبدالصمد

د زده کړو کچه: لسانس (پکتیکا پوهنتون، کرنې پوهنځی څخه فارغ التحصیل)

تحصیلي رشته: حیواني علوم

د تقرر نیټه: ۱۴۰۳

د تلیفون شماره: ۰۰۹۳۷۹۱۵۲۰۳۷۹

ایمیل ادرس: hussainahmadahmadyar06@gmail.com

---

### ۴: د کتابتون مدیریت:

نوم اوتخلص: امان الله نصرت

د پلار نوم: نیاز محمدی



د زده کړو کچه: لسانس
تحصیلي رشته: ښوونه او روزنه (پکتیکا پوهنتون انګلیسي ادبیاتو له څانګې څخه فارغ التحصیل)
د تقرر نیټه: ۲۰/۹/۱۴۰۳
د تلیفون شماره: ۰۷۷۲۴۴۴۲۶۳/۰۷۶۷۴۱۴۱۲۴
ایمیل ادرس: amannasrat67@gmail.com

